**ملګري ملتونه**

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي ماموریت**

**یوناما**

د ملګرو ملتونو امنیت شورا

د ۲۰۰۹ کال د جون ۳۰ نېټه

**د افغانستان لپاره د سرمنشي ځانګړی استازی**

**کای ایډه**

ښاغلی رئیس، په افغانستان کې اوسنی وضعیت یقیناً تر ټولو پیچلی بڼه ده کوم چې موږ په تیرو کلونو کې تجربه کړی دی. خو، که چیرې په سمه توګه مدیریت شي، زه باور لرم چې دا کولای شي د شخړې په پای ته رسولو کې زموږ د هڅو لپاره په یوه خورا مهم بدلون بدل شي.

وضعیت ځکه پیچلی دی چې موږ باید په یو وخت کې ډیری اړخونه او پروسې په پام کې ونیسو: د یو داسې باوري ټاکنیز بهیر د ترسره کولو اړتیا چې پایلې یې د خلکو لخوا د منلو وړ وي؛ د ټاکنیز کمپاین له پیل سره، د جګړې له شدید فصل سره سره، په بیلابیلو برخو کې د هیلې بخښونکو او مثبتو پرمختګونو د پیاوړتیا اړتیا؛ او د ټاکنو وروسته لېرلېد او د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د یوې ستری او متمرکزې اجنډا، یوه داسې اجنډا چې باید د هغې ټولیزې ستراتیژۍ د یوې حیاتي برخې په توګه د سولې لپاره یو د باور وړ بهیر هم پکې شامل وي، جوړول دی.

زه وایم "موږ"، خو البته، په دې ټولو پروسو کې، دا د افغان بنسټونه او د افغان خلکو پوري اړه لري چې باید مشري په غاړه واخلي. د نړیوالې ټولنې رول باید، لکه تل، بشپړ ملاتړ چمتو کول وي.

د اګست میاشتې ټاکنې یوازې د افغانستان د راتلونکو مشرانو د ټاکلو په اړه نه دي. دا د ډیموکراټیکو پروسو په اړه د خلکو د باور پیاوړي کول او هم د افغانستان د ډیموکراټیکو بنسټونو د پیاوړتیا په اړه دي. خبره یوازې په دې کې نه ده چې څوک به مشري وکړي، بلکې د خبره د مشرتابه د مشروعیت په اړه ده.

له همدې امله ما له ټولو نوماندانو څخه غوښته کړې چې په وقار او انصاف سره کمپاین وکړي. ټاکنیز کمپاین تل د اختلافاتو لامل کیږي. خو په دې هیواد او په دې حساس پړاو کې دا خورا مهمه ده چې د کمپاین پر مهال رامنځته شوي اختلافات په سمه توګه مدیریت شي، او کله چې د ولسمشر د لوړې مراسم ترسره شي، نو د هیواد په جوړولو کې د ګډ هدف په لور یووالي ته به ځای ورکړل شي. ټول نوماندان باید دغه اوږدمهاله لیدلوری په پام کې ونیسي.

همدارنګه ما له ټولو دولتي ادارو او چارواکو څخه غوښتنه کړې چې د ټاکنیز بهیر په ټولو پړاوونو کې خپل بې طرفي وساتي. لکه څنګه چې پوهیږئ، ولسمشر یو فرمان هم صادر کړی دی چې له مخې یې د دولتي ادارو لخوا په ټاکنو کې لاسوهنه په کلکه منع شوې ده. وزیرانو او د امنیتي ادارو مشرانو له ما سره په ګڼ شمېر خبرو اترو کې ډاډ راکړی چې دوی د خپلو ادارو د اعتبار او بې طرفۍ ساتلو ته ژمن دي. موږ به له هغو ټولو سره په دوامداره خبرې اترې ولرو ترڅو د مداخلې د پېښو د رامنځته کېدو په صورت کې ورته رسیدګي وشي.

ما له ټولو نوماندانو څخه غوښته کړې چې له هر ډول پاروونکې خبري د کار اخیستلو څخه ډډه وکړي او خپله انتخاباتي مبارزه د افغانستان د راتلونکې په اړه پر خپلو لیدلورو متمرکزه کړي. موږ داسې یوې مبارزې ته اړتیا لرو چې یوازې پر دې تمرکز ونه کړي چې څوک به د هېواد رهبري کوي، بلکې پر دې هم تمرکز وکړي چې هېواد به کوم لوري ته رهبري کوي.

همدارنګه، ما له نړیوالې ټولنې غوښتنه کړې چې د ټاکنو په بهیر کې له هر ډول مداخلې یا د مداخلې له ښکارېدونکې عمل څخه ډډه وکړي. د دې ډول مداخلې هر ډول عمل به د بهیر مشروعیت او پر راتلونکو مشرانو د دغه هېواد د خلکو باور زیانمن کړي. په ځانګړې توګه، دا به د راتلونکې حکومت پر هغه وړتیا ناوړه اغېزه وکړي کوم چې غواړي افغان ولس د سولې په یوه باوري بهیر کې سره یوځای راټول کړي.

د ټاکنو د داسې پایلو له لارې د هېڅ یو خوا ګټې نه خوندي کېږي چې خلک یې پر سر اختلاف ولري او د راتلونکي حکومت پر مشروعیت هم ناوړه اغېزه کوي.

یاد شوي عنصرونه، یعنې نه مداخله، پر تګلارو متمرکز دروند بحث، او بشپړ نړیوال بېطرفي، د هغو عادلانه سیالیو هوار ډګر خورا مهم عنصرونه دي چې موږ ټول د هغه د ترلاسه کولو هڅه کوو.

البته، یو بل مهم عنصر د نوماندانو وړتیا ده چې خپله انتخاباتي مبارزه پرمخ یوسي. زه د دې لیدلو له امله خوښ یم چې افغان رسنۍ به د انتخاباتي مبارزې پر مهال د ولسمشرۍ نوماندانو ترمنځ ګڼ شمېر بحثونه ترسره کړي. زه له ټولو رسنیو، په ځانګړې توګه له دولتي رسنیو غوښتنه کوم چې ټولو نوماندانو ته د عادلانه لاسرسي زمینه برابره کړي.

د کورنیو چارو وزیر وړاندیز کړی چې د انتخاباتي مبارزې پر مهال به نوماندانو ته نږدې امنیتي خوندیتوب برابر کړي. د دفاع وزیر هم د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې نوماندانو ته د ترانسپورتي اسانتیاوو د برابرولو وړاندیز کړی دی. دغه دواړه اقدامات به د ټاکنو د یوې باوري مبارزې په ترسره کولو کې ګټه ور ثابت شي.

دوه اونۍ وړاندې، ما د "اړيکو مرکز" په نوم يو ځای څخه ليدنه وکړه، چيرې چې رايه ورکوونکې کولای شي د ټاکنو په اړه د پوښتنو لپاره اړيکه ونيسي. دا مرکز اوس هره اونۍ د هيواد له گوټ گوټ څخه د رايه ورکوونکو، په ځانگړې توگه د ځوانو رايه ورکوونکو لخوا شاوخوا ۲۵۰۰۰ اړيکې ترلاسه کوي. دا د خپلواک ټاکنو کميسيون د عامه پوهاوي او د رايه ورکوونکو د بسيج کولو د هڅو يوه مهمه برخه ده. ملگرې ملتونه له ټولو رايه ورکوونکو څخه غوښتنه کړې او خپل غوښتنې ته به دوام ورکړي چې د ټاکنو په پروسه کې برخه واخلي. دا ډول گډون د ټاکنو د پايلو د مشروعيت او په ډيموکراتيک ډول سره د ټاکل شويو بنسټونو د راتلونکې پياوړتيا لپاره اړين دی. زموږ غږ پر ټولو افغان اتباعو باندې دی، پرته له کوم استثناء څخه.

ښاغلي رئيس، د سرمنشي راپور په وروستيو مياشتو کې ليدل شوي پرمختگونه بيانوي؛ د ساري په ډول د امنيتي بنسټونو پياوړتيا، د کرنې او خصوصي سکتور اصلاح، د عوايدو د راټولولو او د حکومت د داخلي همغږۍ ښه والی، او د ملکي ظرفيت لوړولو د هراړخيزو پروگرامونو پراختيا او داسې نور.

په دې برخو کې يو بشپړ نوی خوځښت رامنځته شوی دی. خو زما انديښنه دا ده چې د ټاکنيزو کمپاينونو شور او غوغا او د جگړې موسم به دومره انرژي او پاملرنه ځان ته راجلب کړي چې دا مثبت بهيرونه به تر سيوري لاندې راولي او پر هغه خوځښت باندې به اغيزه وکړي چې اوس رامنځته شوی دی. که موږ د دې خوځښت د ساتلو په برخه کې بريالي نه شو، نو زه ويره لرم چې موږ به د نوي جامد او بې حرکت بهير او د خلکو ترمنځ د لا زياتې نا اميدۍ شاهدان واوسو.

دا مثبت بهيرونه په عمده توگه د وړ افغان وزارتونو د کار پايله ده. خو دا د نړيوالې ټولنې د قوي او اوږدمهاله ژمنتيا پايله هم ده. موږ بايد په دې اوږد مهاله ژمنتيا کې ټينگ پاتې شو، ځکه چې دوامداره پرمختگ به پر همدې ژمنتيا باندې ولاړ وي.

په هرصورت، پرمختگ به نويو فرصتونو ته د ځواب ويلو په لنډمهاله وړتيا پورې هم اړه ولري.

هغه کار چې اوس د کرنې په وزارت کې روان دی چې په څه ډول د کرنې په سکتور اصلاح رامنځته شي، د ارزونې او د پروپوزلونو د تشو سره به مخ شي. هغه کار چې د ماليې په وزارت کې روان دی، د ملکي ظرفيت لوړولو د هڅو لپاره به د لومړيتوبونو د يو ليست سبب شي. همدارنگه دا به د لا زياتو عوايدو د راټولولو لپاره د يو پلان جوړول سبب شي. پر دغه ټولو موضوعاتو باندې به په څو راتلونکو ورځو کې د گډې همغږۍ او څارنې بورډ په غونډه کې بحث وشي. هغه کار چې د کورنيو چارو وزارت او نړيوالې ټولنې لخوا ترسره کيږي، د يو پياوړي او اصلاح شوي افغان ملي پوليسو لپاره د پروپوزلونو لامل شي. کله چې دا وړانديزونه موږ ته وړاندې کيږي، موږ بايد وکولای شو چې په چټکۍ او انعطاف سره ورته ځواب ووايو. دا مناسبه نه ده چې موږ کال په کال له افغان چارواکو وغواړو چې زموږ انديښنې حل کړي، خو کله چې يو نوی وزير موږ ته ځواب راکوي، موږ ورته ووايو چې موږ د سږکال د بوديجې په اړه کوم غبرگون نشو ښودلی.

راځئ چې يوه بېلگه واخلو: د کرنې وزارت د سږ کال د پسرلي د غنمو د تخم پېرلو لپاره د ۵.۵ ميليون امريکايي ډالرو بيړنۍ مرستې غوښتنه وکړه، ترڅو بزگران وکولای شي د راتلونکې کال فصل لپاره غنم وکري. سره له دې چې څو ځله غوښتنې ترسره شوې، خو د اړينو سرچينو ترلاسه کول او برابرول په حقيقت بدل نه شو. موږ بايد داسې حالت ته ونه رسېږو چې د دې ډول بيړنيو

اړتیاوو او مرستو د پوره کولو لپاره مجبور شو چې "بیل گېټس" ته مخه واړو. که چیرې موږ په یو ډګر کې په چټکۍ او اغېزمنه توګه غبرګون وښیو چې نوي هڅوونکي پرمختګونه رامنځته کولاي شي، نو دا به په نورو برخو کې هم ورته پرمختګونه وهڅوي. او که چېري موږ په غبرګون په ښودلو کې پاتې راغلو، نو زه وېره لرم چې ښايي له شاتګ سره مخ شو، حتی په هغو برخو کې چې اوس پکې پرمختګ ترسترګو کیږي.

خو زه باید ټینګار وکړم چې موږ په نړیواله ټولنه کې ځینې نوي او هیله بخښونکي رجحانات وینو. په ځانګړې توګه، په تېرو څو اونیو کې د پرمختیا په برخه کې د امریکا د متحده ایالاتو د پالیسیو بیا کتنه ښې پایلې رامنځته کړي. زه د کرنې د نوي ملي پروګرام او د ملکي ظرفیت لوړولو او عوایدو راټولولو لپاره د حکومت د پلانونو د ملاتړ لپاره د چمتووالي هرکلی کوم. اوس داسې یو رجحان تر سترګو کیږي چې د پخوا په پرتله د افغان پلانونو او لومړیتوبونو پراخ ملاتړ کېږي. دا کولای شي یو لوی بدلون په ګوته کړي او د مرستو د لا زیاتو اغېزمنتیا او غوره همغږۍ لامل شي. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د امریکا متحده ایالاتو په پالیسیو کې بدلون، او د معیشت بدیل د پراختیا لپاره د افغانانو له نوي پروګرام په ګډون، کولای شي د کوکنارو د کښت پر وړاندې زموږ په مبارزه کې هم د پام وړ اغېزه ولري.

خو لا هم په افغانستان کې د سرچینو غیر عادلانه ویش دوام لري، چې له امله يې وسله والو مخالفینو لپاره دا اسانه کیږي چې په تېر وخت کې باثباته ولایتونه او ولسوالی بیا بې ثباته کړي. لاهم د پرمختیایي سرچینو د لګښت د څرنګوالي او د هغه د ځای په اړه د راپور ورکولو جدي کمښت شتون لري، چې دا کار پلان جوړونه او همغږي له ستونزو سره مخ کوي. زه هیله لرم چې په مهمو سکتورونو کې د اوسنۍ تشو ارزونه، مرستندوي هیوادونه وهڅوي ترڅو د خپلو لګښتونو په اړه لا ډیر معلومات وړاندې کړي او سرچینې داسې وویشي چې لږ بودیجې لرونکو ولایتونو ته لا ډیرې سرچینې ورسیږي.

پرته له شکه ملګري ملتونه د نویو پلانونو د چمتو کولو پر مهال چې اوسمهال وړاندې شوي دي، له اړوندو وزارتونو سره له نږدې کار کړی دی. او موږ به د پلي کولو په پړاو کې هم دا ډول همکاریو ته دوام ورکړو. موږ لا دمخه د نورو وزارتونو سره کار کړي ترڅو جدي نابرابرۍ، لکه د پوهنې سکتور په ټولو برخو کې موجودې ستونزې حل کړو.

لاهم د همغږۍ د نشتوالي په اړه ډیرې خبرې کیږي. او دا خبرې پر ځای هم دي. خو زه احساس کوم چې په دې موضوع کې ډیری خلک لاهم د تیر وخت بحث ته دوام ورکوي. په تیرو څو میاشتو کې وضعیت بدل شوی دی. زه باور لرم چې موږ اوس د بدلون په حال کې یو: د افغانستان حکومت ښه همغږي لري، په نړیواله ټولنه کې د ښې همغږۍ په لور هڅوونکي نښې شته، او د خپل ماموریت د همغږۍ د ترسره کولو په موخه د ملګرو ملتونو وړتیا بهتره شوې ده.

البته ستر اغیزمن او همغږې شوي پرمختیایي هڅې به موږ ته دا وړتیا راکړي چې د افغانانو اندیښنو او د لویې اقتصادي او ټولنیزې عدالت لپاره د هغوی مشروع غوښتنو ته ځواب ووایو. دا به پر خپل حکومت او همدارنګه نړیواله ټولنه باندې د خلکو باور هم پیاوړی کړي.

او موږ باید له مخکې خپلې هڅې پیاوړې کړو ترڅو داډ ترلاسه کړو چې د نړیوالې ټولنې نظامي حضور د افغانانو د ملاتړ وړ پاتې کیږي. سرمنشي په خپل راپور کې د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو د بیاکتنې غوښتنه کوي - ځکه چې د حکومت پلوه ځواکونو له لوري د ملکي وګړو د تلفاتو لویه برخه د همدې ځواکونو په لاس رامنځته کیږي. هغه په ګڼ میشتو سیمو کې د هوایي ځواک د کارولو د بیاکتنې غوښتنه کوي، کوم چې تېروتنې د ځاني زړه بوګنونکې او غمجن زیانونو لامل شوي دي. او هغه د نړیوالو نظامي ځواکونو د ښې روزنې غوښتنه کوي ترڅو هغوی د افغانستان کلتوري او سیاسي شرایطو ته ښه چمتو شي، کوم چې پکې به فعالیت کوي. زما په اند، د وروستیو تېروتنو سیاسي بیه د نظامي لاسته راوړنو په پرتله خورا لوړه ده او د داسې بیاکتنو ترسره کول په بېړه اړتیا ده.

له همدې امله، ښاغلی رئیس، زه د "چلند په بنسټیز بدلون" باندې د جنرال مک کریسټال د ژمنې کلک هرکلی کوم. دا یوه مهمه وینا ده؛ موږ ټول پوهیږو چې د خلکو د ملاتړ له ساتلو پرته، د یاغیانو پر وړاندې په اغیزمنه توګه مبارزه ناممکنه ده. په سیمه کې د اضافي نړیوالو ځواکونو په شتون سره، دا ننګونه به لا نوره هم جدي شي. ملګري ملتونه به د بشري حقونو د خپل ماموریت پر بنسټ، په خپلواک ډول د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پیښې وڅاري. خو — او تر دې هم مهم دا چې — موږ چمتو یو چې د نوي قوماندان سره د هغه په ارزونو کې همکاري وکړو ترڅو په هره ممکنه لاره د ملکي وګړو د ژوند د ضایع کیدو مخنیوي کې، په هره طریقه چې ممکنه وي مرسته وکړو.

خو اجازه راکړئ بیا تکرار کړم: د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لویه برخه د یاغیانو په لاس رامنځته کیږي. او د هغوی لپاره، دا د تراژیدی تېروتنو پایله نه ده، بلکې د یوې قصدي تګلارې برخه ده.

هغه څه چې ما اوس وویل، په افغانستان کې د عمومي وضعیت د یوې ښې او خوشبینانه انځور وړاندې کولو هڅه نه ده. د پرمختګ امکانات د رواني جګړې له امله په جدي توګه زیانمن شوي دي. د امنیتي پیښو شمیر د لومړي ځل لپاره د مۍ په میاشت کې له زرو څخه واوښت او د تیر کال د ورته مودې په پرتله، په لومړیو څلورو میاشتو کې، د داسې پیښو شمیر ۴۳ سلنه زیات شو. په هرصورت، زه باید زیاته کړم چې دا ارقام د یاغیانو د بریا یا ناکامۍ ښه نښه نه ده. د هیواد په هغو برخو کې هم پیښې ډیرې شوې دي چې تر دې دمه باثباته ځایونه شمېرل کیده. دا د جګړې تر ټولو سخت فصل دی چې موږ یې تجربه کوو. دا هم څرګندده ده چې د پراخ فساد پر وړاندې مبارزه لاهم یوازې په لومړنیو پړاوونو کې ده.

اداري ظرفیت لاهم کمزوري دي، نه یوازې د بشري سرچینو له پلوه، بلکې د فزیکي زیربناوو د نشتون له پلوه هم، په ځانګړې توګه ځایي (ولایتي او ولسوالۍ) په کچو کې. لاهم شپږ ولایتونه د خپلو والیانو لپاره دفترونه نلري. یوازې د ولسوالیو نیمایي ولسوالان د دفتر ودانۍ لري او ۲۸۸ یې موټر نلري. دا د هیواد د اداري کولو او خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې د هغوی پر وړتیا باندی خورا ناوړه او لوی اغیزه لري.

ما د خپلې وینا په سر کې یادونه وکړه چې موږ باید داسې یو لیدلوری ولرو چې له ټاکنو هاخوا پراخ وي. ښاغلی رئیس، په پاریس او د هاګ په کنفرانس کې زموږ د ګډو هڅو لپاره روښانه لومړیتوبونه ټاکل شوي وو. موږ د ټاکنو وروسته مودې لپاره یوې ګډې ستراتیژیکې تګلارې ته اړتیا لرو؛ داسې یو لیدلوری چې وکولای شي روښانه لوری وټاکي او په راتلونکو کلونو کې د نوي حکومت د

ملاتړ په برخه کې موږ ته لارښوونه وکړي؛ د پرمختګ یوه داسې ستراتیژي چې موږ ته د لا منظم او همغږي پرمختګ وړتیا راکړي او د افغانانو لخوا د چارو د لا زیات مالکیت اخیستل زمینه برابره کړي؛ او یوه امنیتي ستراتیژي چې د افغان امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا او د هیواد د ثبات په تامین کې د هغوی د ونډې لوبولو بهیر ګړندی کړي؛ او په پای کې، یوه سیاسي ستراتیژي چې د سولې یو داسې باوري او ټول شمول بهیر پکې شامل وي چې د ټولو افغانانو - نارینه وو، ښځو او ماشومانو - حقونو ته درناوی ولري او د افغان ټولنې بېلابېلې برخې په ټول شموله توګه سره یوځای کړي. دا ټول عنصرونه باید د ټاکنو وروسته موده کې زموږ د لیدلوري نه بېلېدونکې برخې وي.

دوه اونۍ وړاندې، ما د سولې د ټول شموله بهیر د اړتیا په اړه جوړه شوې غونډه کې نږدې زرو تنو افغان دیني او فکري مشرانو ته، چې د اپوزیسیون مشران هم پکې شامل وو، وینا وکړه. زما پیغام هغوی ته دا و چې د سولې دا ډول بهیر باید د افغانانو په مالکیت او رهبرۍ پرمخ یووړل شي. خو ملګري ملتونه باید په داسې بهیر کې د ملګري یا شریک په توګه د ګډون لپاره چمتو وي او زه د داسې ملګرتیا د رامنځته کولو لپاره ژمن یم.

خو، د سولې یو باوري او بریالی بهیر یوازې هغه وخت ترسره کېدای شي چې موږ داسې حکومت ولرو چې د خلکو ملاتړ له ځان سره ولري او پر خپل ځواک باور ولري. او دا بهیر یوازې هغه وخت ممکن دی چې موږ نړیوال حضور ولرو چې د خلکو ملاتړ ولري او پر خپل ځان باور ولري.

تیره اونۍ زه په تریست (Trieste) کې د G8، د نړۍ د اتو سترو صنعتي هیوادونو په غونډه کې د ګډون لپاره بلل شوی وم. دا د هغو غونډو د لړۍ وروستۍ غونډه وه چې د افغانستان د پرمختګ لپاره یې په سیمه کې پر موجودو ظرفیتونو تمرکز درلود. په امنیتي چارو کې د سیمه ایزې هیوادونو نږدې همکارۍ اړتیا په بشپړه توګه څرګنده ده. خو د پرمختګ امکانات تر دې خورا پراخ دي. په لنډ مهال کې، د سیمې کارپوهان، چې ژبه، کلتور او اقلیم پېژني او ډېرې وختونه د لیرې سیمو د کارپوهانو په پرتله ډېر اغیزمن او کم لګښته ثابتیدای شي، کولای شي د افغان ظرفیتونو په لوړولو کې ارزښتناکه ونډه واخلي. په اوږد مهال کې، د زیربناوو مهم پروګرامونه نه یوازې دا چې افغانستان د سوداګرۍ پر وړاندې له یو خنډ څخه په یو داسې دهلیز بدلولی شي چې سیمه ایزې اقتصادي فعالیتونه پکې ترسره کیږي، بلکې خورا ګټور ثابتیدای شي. داسې زیربناوې به افغانستان ته دا وړتیا ورکړي چې له خپلو طبیعي او بشري سرچینو څخه ګټه پورته کړي. افغانستان یو ډېر بې وزله هېواد دی، خو د تل لپاره په بې وزلۍ کې پاتې کېدل یې برخلیک نه دی. دغه هېواد پراخې معدني سرچینې لري، لکه په آسیا کې د اوسپنې د کان تر ټولو ستره زیرمې لري.

د کرنې په څېر، د زیربناوو په ډګر کې هم د بودیجې له جدي کمښت سره مخ دی. که موږ یوازې په یو شمېر محدودو ستراتیژیکو زیربنایي پروژو باندې تمرکز وکړو، نو د پایښت لرونکې اقتصادي ودې، کارموندنې او د عوایدو د راټولولو په برخو کې به یې اغېزې خورا ستر وي. د ریل پټلۍ یوه شبکه چې د ایران له پولې څخه د هرات له لارې د شمال ختیځ په لور له مرکزي آسیا او چین سره وصل شي، او همدارنګه بله شبکه چې د پاکستان له پولې څخه د جلال اباد له لارې په شمال کې له هغو کرښو سره ونښلي چې مرکزي آسیا او لویدیځ کې د ایران پولې ته غځېدلې دي، سیمه ایزه سوداګري به پیاوړې کړي. دا کار به افغانستان ته دا وړتیا

ورکړي چې خپلې معدني سرچينې استخراج او صادر کړي. د دې شبکې د مهمو برخو د جوړولو لپاره لا دمخه هوکړې شتون لري.

اړتيا ده چې شته تشې ډکې شي، دا کار به د وخت په تېرېدو سره پر بهرنيو مرستو د افغانستان اتکاء کمولو باندې خورا مثبت اغېزه ولري. له مرکزي آسيا څخه د افغانستان له لارې د برښنا د مزو غځول به هم ورته اغېزې ولري او په بېلابېلو اقتصادي برخو کې به د فعاليتونو د زياتوالي لامل شي. دغه اړخ بايد د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د افغانستان او د هغې د سيمې په ليدلوري کې يوه مهمه برخه وي.

ښاغلی رئيس، اجازه راکړئ د يوناما په اړه څو خبرې وکړم: د دې ماموريت دندې څو اړخيزې او پراخې (يا لوړ اهداف) لرونکې دي. د نړيوالې ټولنې تمې هم لوړې دي. زه په يقين سره د هغو اضافي سرچينو له امله منندوی يم چې دغه ماموريت د تېر کال په ډسمبر مياشت کې ترلاسه کړې. خو د ۲۰۰۹ کال د بوديجې له تصويب وروسته په تيرو شپږو مياشتو کې وضعيت بدلون موندلی دی.

د لوړو تمو او په عملي ډګر کې د نويو فرصتونو د رامنځته کېدو سره، د لا زياتو سرچينو ته اړتيا شته: ترڅو د مرستندويانو د همغږۍ په برخه کې خپله دنده ترسره کړو؛ د ظرفيت او بنسټونو د جوړولو په برخه کې له نويو فرصتونو څخه ګټه واخلو؛ او په ټول هيواد کې خپل فعاليتونه پراخ کړو، لکه څنګه چې د امنيت شورا په پرېکړه ليکونو کې غوښتل شوي دي. څرنګه چې پوهېږئ، يوناما پخپله مالي سرچينې نه راوړي. خو په ټول هيواد کې زموږ د ماموريت شتون کولای شي د نورو ملکي ادارو لپاره د جذب د يوې وسيلې په توګه کار وکړي او په تدريجي ډول سره د پراختيا او حکومتولۍ هڅې له نظامي چوکاټ څخه ملکي چوکاټ ته راولي، چيرې چې دا چارې بايد ترسره شي. همدارنګه، دا کار کولای شي د ملکي اړيکو د يوې غوره برنامې له لارې د يوه ټول شموله سياسي بهېر په اسانه کولو کې به مرسته وکړي. له همدې امله، زه له تاسو څخه غوښتنه کوم چې د اضافي سرچينو لپاره زموږ د بيړنۍ اړتيا په ډګر کې له موږ سره مرسته وکړئ. زه به وروسته په دقيق ډول په دې اړه له تاسو سره خبرې وکړم. د مارچ په مياشت کې په ترسره شويو بحثونو او هغه ماموريت کې چې موږ ته سپارل شوی، امنيت شورا له ماموريت څخه وغوښتل چې د خپلو فعاليتونو لپاره معيارونه (يا د پرمختګ شاخصونه) وټاکي. دا کار روان دی او د سپتمبر په مياشت کې به د سرمنشي د راتلونکي راپور لپاره بشپړ او نهايي شي. دا اسانه کار نه دی، ځکه چې د يوناما هڅې د ډيرو نورو افغان او نړيوالو ادارو د هڅو يوه نه جلا کيدونکې برخه ده. همدارنګه، په سياسي بهېرونو کې د وخت د چوکاټ او د پرمختګ د اندازه کولو د لارو چارو ټاکل ستونزمن کار دی، په ځانګړې توګه په داسې يوه وضعيت کې چې د افغانستان په څېر چې اټکل کول ستونزمن او پيچلی وي. سره له دې، له خپلو شريکانو سره زموږ مشورې روانې دي او زه ډاډمن يم چې تر سپتمبر پورې به وکولای شو تاسو ته د با مفهومه او معنی لرونکې معيارونو يوه ټولګه وړاندې کړو.

مننه.